مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۱۲/۱۵

# غزل

ژوند سلګی، سلګی دی، له خندا سره بلد نه یو
مونږ تیارو خوړلي یو، رڼا سره بلد نه یو

تللی دی تر دار عدل، منصف په زولنو کښی دی
اوس له صداقت جوړې فضا سره بلد نه یو

هر ذهن غلام دی، مستقل فکرونه نه لرو
زغمو خاموشي په ځان، غوغا سره بلد نه یو

اور کښی رالوی شوي یو زهریني دي د ژوند شپېې
مونږه د خوندونو له دنیا سره بلد نه یو

حال د پسرلي د رنځ به کوم طبیب ته ووایو
درد په سر اخیستي یو دوا سره بلد نه یو

مصطفی پسرلی
15/12/2020


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ